د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون

شرعیاتو پوهنځی

د تفسیر څانګې

# کتلاګ





کال: ۱۴۰۵ هـ. ش

Islamic Emarate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Shaikh Zayed University

Faculty of Sheriah

## د مطالبو لیکلړ


| | |
|---|---|
| د څانګې د آمر پیغام | 2 |
| د څانګې لنډه تاریخچه | 3 |
| د څانګې لرلید (Vision ) | 3 |
| د څانګې ماموریت، رسالت (Mission) | 3 |
| د څانګې ارزښتونه (Values ) | 3 |
| د څانګې موخې | 4 |
| د تفسیر څانګې اداري جوړښت او مسئولین | 5 |
| د تفسیر څانګې د استاذانو احصایوي لیست | 5 |
| د تفسیر څانګې د محترمو استاذانو د څېړل شویو علمي آثارو لیست | 5 |
| زېربنا | 12 |
| ظرفیت لوړونه | 14 |

## د څانګې د آمر پیغام

بِســمِ اللَّهِ الرَّحمنِ الرَّحيمِ. الحَمدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ والصَّــلاةُ والسَّــلامُ عَلَيَّ سَــيِّدِ المُرسَــلينَ وَعَليَّ آلهِ وَاصــحابِهِ اجمَعينَ!

اما بعد! په حقيقت کې الله تعالى دنيا او په دنيا کې شته موجودات بې ګټې نه دي پيدا کړي، په دنيا کې ټول مخلوقات يې د انسان د ګټې لپاره پيدا کړي دي، لکه چې الله تعالى فرمايي: ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ البقرة: ٢٩

ژباړه: الله تعالى هغه ذات دی، چې په ځمکه کې هرڅه يې ستاسو لپاره پيدا کړي دي.

انسان هم بې ګټې نه دی پيدا شوی، لکه چې الله تعالى فرمايي: ﴿ أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَنْ يُتْرَكَ سُدًى ﴾ القيامة: ٣٦

ژباړه: ايا انسان ګمان کوي، چې بې کاره به پرېښودی شي.

همدا ډول الله تعالى د انسان د پيدا کېدو په اړه فرمايي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ الزاريات: ٥٦

ژباړه: ما پېريان او انسانان نه دي پيدا کړي، مګر دې لپاره مې پيدا کړي دي چې زما عبادت وکړي.

له پورتني آيت څخه ښکاره شوه، چې انسانان به د يو قانون لمخې ژوند تيروي، چې هغه قانون زموږ لپاره د الله تعالى مقدس کتاب قرآن کريم دی. داچې د قرآن کريم په حقيقي معنا او مفهوم باندې پوهيدل مشــکل کاردی، نو د قرآن کريم تفسير ته اړتيا ده.

د پورتنۍ اړتيا په نظر کې نيولو ســره د افغانســتان اســلامي امارت لوړو زده کړو وزارت لازمه وګڼله چې د شــيخ زايد پوهنتون شــرعياتو پوهنځۍ په تشــکيل کې د تفســير مســتقله څانګه ايجاد کړي، په څاګه کې لازمه ده چې د څانګې کتلاګ موجود وي. کتلاګ په مختلفو موضــوعاتو مشــتمل وي، چې يوه موضــوع يې د څانګې آمر پيغام دی، لهذا د تفسير څانګې آمر په حيث د افغانستان قهرمان او غيورولس ته خپل پيغام داسې وړاندې کوم چې: خپل اولادونه مو په قرآن کريم پوه او مزين کړئ او د قرآني علومو مرکزونو ته يې ولیږئ، ترڅو د قرآن کريم په اړه کامله پوهه ترلاســه کړي. خپله د قرآن کريم د ترجمې او تفسير څخه خوند واخلئ ، کم ازکم خپله او پخپلو بچيانو باندې يې په ټول عمر کې دري ځله د جيدو علماء کرامو څخه د قرآن کريم تفسير وکړئ.

په قرآن کريم باندې ځانونه خبر کړئ او د غير شرعي کلتورونو ، رواجونو ، کړنو ، ويناوو او عقائدوڅخه ځانونه وساتئ. بناءً د تفسـير مضـامين، د لوړو زده کړو وزارت په ادانه کې، د اسـلام د مبارک دين د ارزښـتونو د سـاتنې، څارنې او پلي کېدو په پار، رامنځته شـوي دي؛ ترڅو ځوان او کادري کهول له خپلو لوړو ارزښـتونو، پخو او اصيلو موخو سره، په نه شلېدونکي تار سره پيوند وساتي، چې په پايله کې د هر ببګانه، سياسي، کلتوري، اقتصادي او نظامي يرغل او ښکېلاک پرورواندې ويښ، مبارز او خپلو ارزښـتونو ته ژمن او ساتونکي پاتې شي.

په درنښت

پوهندوی نقيب الله مشفق

د تفسير څانګې آمر

## د څانګې لنډه تاریخچه

کله چې په ۱۳۸۱ هـ ش کال کې د افغان پوهنتون د کوزې پښتونخوا (پیښور) څخه د افغانستان د وخت ولسمشر په حکم سره خوست ولایت ته را نقل شو؛ نو د شرعیاتو پوهنځي یې په خپل تشکیل کې درلوده، چې نوموړي پوهنځی یواځې د فقهې او قانون څانګه درلوده. د ځینو مشکلاتو په اساس نوموړي پوهنځی د حقوقو او اداره او تجارت څانګو له یو ځای کیدو یوه پوهنځي تشکیل شوې وه، چې وروسته په ۱۳۸۴ کال کې د شیخ زاید پوهنتون په وراندیز او د ستونزو په لرې کېدو سره هره څانګه په مستقله پوهنځي تبدیله شوه . په دې سره د شرعیاتو پوهنځي په مستقل ډول د یو دیپارتمنت (فقه اوقانون) په لرلو سره تر ۱۳۹۰ هـ ش کال پورې ورځ تربلې نوښتونه او پرمختګونه کړي.

په ۱۳۹۰ کال کې دوهم فارغ ورکونکی دیپارټمنټ د اسلامي تعلیماتو په نوم د وزارت مقام لخو منظور او په ۱۳۹۱ کال کې عملا په رسمي ډول پیل شو.

د تفسیر دیپارټمنټ د هیواد او سیمې په کچه د اړتیاوو له مخې د شیخ زاید پوهنتون د دیپارټمنټونو په لړ کې په (۱۴۰۳) لمریز کال کې تاسیس شو، دا څانګه غیر فارغ ده، چې استاذان یې د شرعیاتو پوهنځی مربوط په فقه او قانون او اسلامي تعلیماتو څانګو کې محصلینو ته د مضامینو تدریس پر غاړه لري، او د شرعیاتو پوهنځي په چوکاټ کې فعالیت لري ، د شرعیاتو پوهنځي د تفسیر څانګه في الحال (۴) تنه استاذان لري

د تفسیر څانګه، چې د شیخ زاید پوهنتون په کچه یوه وتلې څانګه ده؛ ځکه چې د قرآن کریم علومو په برخه کې په واقعي معنی د وطن بچیان روزی.

## د څانګې لرلید (Vision)

د افغانستان په کچه د قرآني علومو په برخه کې د یو سترعلمي او څېړنیز مرکز رامنځ ته کول.

## د څانګې ماموریت، رسالت (Mission)

**د تفسیر څانګه په محصلانو کې د قرآن کریم صحیح لوستلو، د قرآن کریم په معنا، مقصد او احکامو باندې پوهېدلو، په تفسیرونو کې د مفسرینو د تګلار و پېژندلو او د علوم القرآن اړوند پوهاوی رامنځ ته کوي.**

## د څانګې ارزښتونه (Values)

1. **د قرآن کریم د غوښتنو عملي کولو لپاره هڅې کول.**
2. **په افغانستان کې د قرآني اصولو د پلي کوونکو روزنه.**
3. **داسې محصلین تولنې ته وړاندې کول، چې: د قرآن کریم په صحیح لوستلو پوره حاکمیت ولري، د قرآن کریم په معنی، مفهوم پوه وي، د قرآن کریم په سم تفسیر پوه وي، د قرآن کریم په اړه هر اړخیزه پوهه ولري.**

4. د داسې ټولنې رامنځ ته کولو لپاره هڅه کول، چې ژوند د قر آني احکامو لاندې تیروي.

## د څانګې موخې

د تفسیر په څانګه کې لاندې موخو ته درسېدو هڅې کېږي:

۱: د تجوید داصولوسره سم د قرآن کریم زده کړه او لوستل.

۲: د قرآن کریم سم تفسیر او ترجمه زده کول.

۳: د قرآن کریم په احکامو پوهه ترلاسه کول.

۴: د قرآن کریم په آیتونو کې د ناسخ او منسوخ پېژندل.

۵: د قرآن کریم آیتونو د سبب نزول پیژندل.

## د تفسير  څانګې اداري جوړښت او مسئولين

| ګڼه | شهرت | | | دنده | ګرځنده شميره |
|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تخلص | علمي رتبه | | |
| ۱ | نقيب الله | مشفق | پوهندوی | د تفسير  د څانګې آمر | 0775707470 |
| ۲ | عزت نور | | پوهندوی | استاذ | 0777546822 |
| ۳ | ضياء الله | نيازی | نوماند پوهنيار | استاذ | 0774802358 |
| ۴ | هادي الرحمن | عصام | نوماند پوهنيار | استاذ | 0789735927 |

## د تفسير څانګې د دايمي او قراردادي استاذانو احصايوي ليست

| ګڼه | د استاذانو نوعيت | استاذانو شمير | علمي رتبو په تفکيک | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نوماند پوهنيار | پوهنيار | پوهنمل | پوهندوی |
| ۱ | رسمي استاذان | ۴ | ۲ | ۰ | ۰ | ۲ |
| ۲ | قراردادی استاذان | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| تولټال | | ۴ | ۲ | ۰ | ۰ | ۲ |

## د تفسيرو څانګې د محترمو استاذانو د څېړل شويو علمي آثارو ليست

| شماره | مولف يا څېړونکی | موضوع | د موضوع نوعيت | د چاپ ځای | د چاپ نيټه | دصفحو شميره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پوهندوی نقيب الله مشفق | غصب د اسلامي فقهې او د افغانستان مدني قانون له انده | د پوهنيارۍ اثر | شيخ زايد پوهنتون | ۱۳۹۷ | ۱۶۵ | |
| ۲ | پوهندوی نقيب الله مشفق | د تفسيرکشاف القرآن تکلاره | ماسترۍ تيزس | ننګرهار پوهنتون | ۱۳۹۹ | ۱۹۴ | |
| ۳ | پوهندوی نقيب الله مشفق | د تلخيص شرح العقيدة الطحاوية لنديز | د پوهندوی اثر | شيخ زايد پوهنتون | ۱۴۰۳ | ۳۳۵ | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | پوهندوی مفتي عزت نور | فتح الرحمن في اثبات مذهب النعمان | تخصص رساله | كراچي | | ۱۱۲۰ | |
| ۵ | پوهندوی مفتي عزت نور | السعي الحثيث في السيطرة. على علوم الحديث | | پيښاور | ۱۴۰۲ | ۲۴۰ | |
| ۶ | پوهندوی مفتي عزت نور | مبادئ علم الحديث | د پوهندوی رتبي لپاره ليکل شوی | شيخ زايد | ۱۴۰۴ | ۲۲۰ | |
| ۷ | پوهندوی مفتي عزت نور | أهمية الوقت عند أهل العلم | د الأدب العربي تخصص رساله(تيزس) | كراچي | ۱۳۹۸ | ۱۵۰ | |

پوهنځی: شرعیات
څانګه: تفسیر
د اتو سمسترونو د مضامینو، کریډټونو او کوډونو لیست

| شماره | مضمون او د کریډټ شمیر | د کریډیټونو شمیر | سمستر | د مضمون کوډ |
|---|---|---|---|---|
| 1 | الحفظ والتجوید | دوه کریډیټ | لومړی سمستر | SH.IL.0106 |
| 2 | الحفظ والتجوید | دوه کریډیټ | لومړی سمستر | SL.IS.0106 |
| 3 | علوم القرآن | دوه کریډیټ | دویم سمستر | SH.IL.0 217 |
| 4 | علوم القرآن | دوه کریډیټ | دویم سمستر | SL.IS.0216 |
| 5 | تفسیر (۱) | درې کریډیټ | دویم سمستر | SL.IS.0215 |
| 6 | تفسیر (۱) | دوه کریډیټ | دریم سمستر | SH.IL.0321 |
| 7 | تفسیر (۲) | درې کریډیټ | دریم سمستر | SL.IS.03015 |
| 8 | تفسیر (۲) | دوه کریډیټ | څلورم سمستر | SH.IL.0420 |
| 9 | تفسیر (۳) | درې کریډیټ | څلورم سمستر | SL.IS.0415 |
| 10 | تفسیر آیات الاحکام (۱) | درې کریډیټ | پنځم سمستر | SH.IL.05 20 |
| 11 | تفسیر (۴) | درې کریډیټ | پنځم سمستر | SL.IS.0515 |
| 12 | تفسیر آیات الاحکام (۲) | درې کریډیټ | شپږم سمستر | SH.IL.06 20 |
| 13 | تفسیر (۵) | درې کریډیټ | شپږم سمستر | SL.IS.0615 |
| 14 | تفسیر (۶) | دوه کریډیټ | اووم سمستر | SL.IS.0715 |
| 15 | تفسیر (۷) | دوه کریډیټ | اتم سمستر | SL.IS.0815 |

## د تفسیر څانګې د استاذانو بیوګرافي

| شهرت | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نوم او تخلص | نقیب الله مشفق | د پلار نوم | قمرجان |  | |
| اصلي استوګنځای | کلی: چیني مهدیخیل | ولسوالي: مرکز | ولایت:خوست | | |
| فعلي استوګنځای | کلی: چیني مهدیخیل | ولسوالي: مرکز | ولایت:خوست | | |
| علمي درجه | ماسټر | تذکرې نمبر | 1399-1003-29092 | | |
| علمي رتبه | پوهندوی | د زیږېدنې کال | 1365هـ ش | | |
| څانګه | تفسیر | د تقرر نېټه | 1392/2/23 هـ ش | | |
| اړیکه | 0775707470 | 0775707470 | نېږدې خپلو انو شمېره | 0747969688 | |
| برېښنالیک | mushfiqkhosi@gmail.com | | | | |

پوهندوی نقیب الله مشفق، د الحاج قمرجان زوی د حاجي مهربان شاه لمسی، چې په ۱۳۶۵ هـ ل کال یې د هجرت پرمهال په کوزه پښتونخوا کې نړۍ ته سترګې پر انیستې دي.

لومړنۍ دیني زده کړې یې د خپل کلي په مدرسه کې کړې دي او پاتې دیني زده کړې یې د خوست ولایت لکنو فیض القرآن مدرسه کې سرته رسولې دي.

نوموړي د دیني علومو ترڅنګ عصري زده کړې هم له پامه نه دي غورځولې، چې په ۱۳۸۲هـ ل کال کې د لکنو عالي لیسې څخه فارغ او په ۱۳۸۶ هـ ل کال د شیخ زاید پوهنتون شرعیاتو پوهنځۍ د فقه او قانون څانګې څخه په لوړه درجه فارغ شو.

په ۱۳۹۹ هـ ل کال کې د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځۍ تفسیر او حدیث څانګې د ماسټرۍ څخه په A درجه فارغ شوی دی. نوموړی په ۱۳۹۲ هـ ل کال په شیخ زاید پوهنتون شرعیاتو پوهنځۍ فقه او قانون څانګه کې د علمي کادر په توګه دنده پیل کړې ده، چې اوس مهال د پوهندوی علمي رتبه لري.


ښاغلی نقیب الله مشفق په پښتو او دري سربېره په عربي او انګلیسي ژبو هم پوهه لري، د ژبو د مهارتونو ترڅنګ د کمپیوټر دفتري پروګرامونو ته هم په بشپړه توګه لاس رسی لري.

د ښاغلي استاد مشفق درې کتابونه( غصب د اسلامي فقهې او مدني قوانینو له آنده، د تفسیرکشاف القرآن تګلاره، د شرح العقیدة الطحاوي لنډیز) لیکلي او شپږ څېړنیزې مقالې په داخلي ژورنالونو او دوه یې په نړیوالو ژورنالونو کې

خپرې شوې دي. ښاغلي استاد د افغانستان په داخل کې په زیات شمیرورکشاپونو کې برخه اخیستې ده، ښاغلی استاد اوس مهال د تفسیر څانګې د استاد او آمر په حیث مسؤولیت پر غاړه لري.



د شرعیاتو پوهنځی ودانۍ

| شهرت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نوم او تخلص | مفتي عزت نور | د پلار نوم | حاجي بادشاه الدين |  |
| اصلي استوګنځای | کلی: کمال خیل ځمیځه | ولسوالي: دوه منده | ولایت:خوست | |
| فعلي استوګنځای | کلی: اشکیری ځدراڼ | ولسوالي: علیشیر | ولایت:خوست | |
| علمي درجه | دکتور | تذکرې نمبر | ١٤٠٠-١٢٠١-٤٣٥١٦ | |
| علمي رتبه | پوهندوی | د زېږېدنې کال | ۱۳۷۴هـ ش | |
| څانګه | تفسیر | د تقرر نېټه | 1401/1/1 هـ ش | |
| اړیکه | ۰۷۶۷۳۷۵۹۱۰ | ۰۷۹۶۹۳۴۰۵۵ | نیږدې خپلو انو شمیره | 0777546822 |
| برېښنالیک | ezatnoorshhab@gmaig.com | | | |

ښاغلی پوهندوی دکتور مفتي عزت نور د حاجي بادشاه الدين زوی او د حاجي حليم الدين لمسی، د خوست ولايت د دومنده ولسوالی اصلي اوسيدونکی او د خوست د عليشير ولسوالی فعلي اوسيدونکی چې په ١٣٧٤ لمريز کال يې د خوست ولايت په ديندراه او مجاهد پروره کورنی کې نړی ته سترګې غړولي.

زدکړې:

جناب مفتي صاحب د عمر څخه کم خو دعلم او عقل په لحاظ پوخ شخصيت دی. ښاغلي مفتي صاحب لومړنی زده کړې له  خپل ابايي وطن او مدراسې څخه شروع کړې، د فنونو کتابونه يې د هېواد په مختلفو مدرسو کې وويل، تردې چې د خوست په مشهورې او نوموتې مدرسې ابن عباس مندوزيو څخه د حديثو له دورې څخه په ممتاز سند او لوړه کچه فارغ شو.

له فراغت وروسته يې دوه کاله تخصص في الفقه الإسلامي په جامعه شفاء العليل کې ترسره کړ.

وروسته يې خپلو لوړو زدکړو ته ادامه ورکړه او د کراچۍ د ابن عباس مدرسې څخه يې په عربي ادبياتو کې د تخصص سند ترلاسه کړ.

د عربي ادبياتو له بشپړېدو وروسته يې د همدې ښار کراچۍ په مشهوره مدرسه جامعة العلوم الاسلاميه بنوري ټاون کې يې دوه کلن تخصص في علوم الحديث النبوي هم بشپړ او د فراغت سند يې تر لاسه کړ.

قدرمن مفتي صاحب ته د تخصص سند د لوړو زدکړو وزارت لخوا په دوکتوراه ارزيابي شوی، د تخصص سند د ارزيابی امتحان د ازموينو عمومي اداري لخوا اخيستل شوی چې په ممتاز نمرو باندې قدرمن مفتي صاحب بريالی شوی دی.

ښاغلی دکتور صاحب په اسلامي اقتصاد او بانکداری کې د دوهمې دکتوراه د ترلاسه کولو برحاله محصل هم دی چې د رسالې(تيزس) د ليکلو په جريان کې دی.

تدريس:

جناب مفتي صاحب په مختلفو مدارسو او جامعاتو کې د مختلفو فنونو د تدريس ترڅنګ د تخصص في الافتاء والقضاء او تخصص في علوم الحديث د تدريس او اشراف څو کلنه تجربه هم له ځان سره لري چې دوه کاله يې د مرکزکابل د جامعه عبد الله ابن مسعود د تخصص في الفقه او تخصص في علوم الحديث استاد او مشرف هم پاتې شوی دی.

ښاغلی دکتور مفتي عزت نور څلور چاپ شوې تحقيقي رسالې لري، چې د آثارو په ليست کې ترې يادونه شوېده او يو شمېر نا چاپ اثار لري، همداشان يې مقالې په بيلابيلو ژورنالونو کې چاپ کړېدي. ښاغلی مفتي صاحب اوس مهال د خوست د شيخ زايد پوهنتون د شرعياتو د پوهنځی برحال استاذ دی.

| شهرت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نوم او تخلص | ضیاء الله نیازی | د پلار نوم | علي احمد خان |  |
| اصلي استوګنځای | کلی: سفر آباد | ولسوالي: مرکز | ولایت:خوست | |
| فعلي استوګنځای | کلی: سفر آباد | ولسوالي: مرکز | ولایت:خوست | |
| علمي درجه | دکتورا | تذکرې نمبر | 1402-0900-82706 | |
| علمي رتبه | نوماند پوهنیار | د زېږېدنې کال | ۱۳۸۲هـ ش | |
| څانګه | تفسیر | د تقرر نېټه | ۱۳۸۲/۱۲/۱۵هـ ش | |
| اړیکه | 0774802358 | 0775415760 | نیږدې خپلوانو شمیره | 0772960860 |
| برېښنالیک | monqadniazai@gmail.com | | | |

ښاغلی ضیاءالله نیازی ولد علي احمد خان ولدیت حاجي حضرت خان، د افغانستان د خوست ولایت، مرکز د شمل پیرانو سفرآباد کلي اوسېدونکی دی، چې په کال ۱۳۸۲/۹/۲۹ هج، ش، کې د حضرت خان په نوم، په یوه دینداره کورنۍ کې پیدا شوی دی، ترنهم ټولګي پورې زدکړې یې د شمل پیرانو په عالي لېسه کې ترسره کړې دي، او پاته زدکړې یې د خوست مرکز اړوند په الکلیم خصوصي عالي لیسه کې پایته ورسولې، او له دولسم ټولګي څخه په اعلی درجه فارغ شوی دی، د عصري زدکړو ترڅنګ یې، د قرآن کریم حفظ، او نورې دیني زدکړې یې هم د خوست ولایت مندوزیو ولسولۍ اړوند د ابن عباس رض په مدرسه کې سرته رسولې دي، چې د دورة الحدیث فراغت یې هم په یاده مدرسة کې په ۱٤٤٥ هج ق کې ترسره شوی دی، او د فقه او قضاء په برخه کې یې د عبد الله بن مبارک رح پکتیا، په جامعه کې په اول نمبر سره په ۱٤٤۷ هج ق کال کې سرته رسولې دي، چې د دوکتورا له فراغت څخه وروسته د لوړو زدکړو وزارت ترچتر لاندې د خوست شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي د استادي لپاره امتحان ورکړو، چې د امتحان په نتیجه کې د یادې پوهنځۍ د تفسیر شریف څانګې ته بریالی شو، چې تر دې دمه په یاده څانګه کې د تفسیر شریف د مضامینو د تدریس دنده پرمخ وړي، نومړی د خپلې مورنۍ ژبې ترڅنګ په فارسي، عربي او اردو ژبو لیک او لوست کولی شي، ددې ترڅنګ له کمپیوټر سره هم بلدتیا لري.

| شهرت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نوم او تخلص | هادي الرحمن عصام | د پلار نوم | زمين خان |  |
| اصلي استوګنځای | کلی: تلا کلی | ولسوالي: صبري | ولايت: خوست | |
| فعلي استوګنځای | کلی: تلا کلی | ولسوالي: صبري | ولايت: خوست | |
| علمي درجه | دکتور | تذکرې نمبر | ۱۴۰۱-۰۹۰۰-۸۳۶۶۶ | |
| علمي رتبه | نوماند پوهنیار | د زېږېدني کال | ۱۳۸۲/۱۲/۱۵هـ ش | |
| څانګه | تفسير | د تقرر نېټه | ۱۴۰۴/۱۲/۵ هـ ش | |
| اړیکه | ۰۷۹۵۳۵۳۳۵۸ | ۰۷۸۹۷۳۵۹۲۷ | نیږدې خپلو انو شمیره | ۰۷۹۱۳۰۱۵۱۶ |
| بريښناليک | hadikhosty@gmail.com | | | |

محترم استادمفتي هادي الرحمن عصام د استاد زمين خان زوی د مرحوم حاجي ميرام خان لمسی د خوست ولایت صبريو او یعقوبیو ولسوالی، د سوري پاڼ تلا کلي په يوه ديندار‌ه او علمي کورنی کې په ۱۳۸۲/۱۲/۱۵ هجري لمريز کال کې زيږيدلی دی. نوموړي په ماشومتوب خپلې لومړنۍ ابتدايي زده کړې په خپل کورکې له خپل پلار څخه حاصلې کړې دي. او وروسته يې خپلې ديني زده کړې د خپل قوم په (جامعه ابوبکر صديق رضی الله عنه) مدرسه کې پيل کړې او ترڅنګ يې په ۱۳۸۸ هجري لمريزکال کې عصري زده کړې د خپل کلي په مکتب (عالي لبسه) کې هم پيل کړې. د لومړنیو زده کړو وروسته د ديني علوموپه برخه کې د فنونو لپاره په (جامعه خضرت حنظله رضی الله عنه نوری کلي) او درې کاله يې مسلسل په (جامعه سراج الاسلام خالبسات) او څلورکاله يې په (جامعه فيض القران لکڼ شينکی) کې زده کړو ته دوام ورکړ. وروسته د الله تعالی په توفيق د اسلامي امارت د فتحې له راتګ سره سم يې په ۱۴۰۱ هجري لمريز کال کې د عالي درجه د (مناظراهل اسلام د فرق باطله د سردرد شمس الشهداء شهيد شيخ القران والحديث رحيم الله الحقاني) سره په (جامعه محمديه کابل شش درک) کې ترسره کړه خو د شيخ صاحب د شهادت وروسته يې پاتې درسونه د افغانستان اسلامي امارت د پخواني د پوهنې وزير شيخ الحديث نورالله منير څخه بشپړ کړل. او په ۱۴۰۲ هجري لمريزکال کې د عالمي درجې لپاره يې د خوست ولايت جهادي مدرسه(منبع الجهاد) انتحاب کړه چې بلاخره يې له همدغه ځای څخه د فراغت ممتازسند په ۱۴۰۲/۱۱/۰۹ هجري لمريزکال ترلاسه کړو، نوموړي استاد خپله علمي لړۍ قطع نه کړه وروسته يې د مرکزي زون کابل ولايت د ديني جامعاتواوتخصصاتولوی رياست اړوند د (جامعه عبدالله ابن مسعود) جامعې ته د ازاد رقابت له لارې د تخصص في الافتاء والقضا زده کړو لپاره امتحان ورکړو چې په پايله کې (جامعه رياض العلوم) تخصص څانګې ته کامياب شو، چې هلته يې دوه کلن تخصص في الافتاء والقضا کې په بریالیتوب سره بشپړ کړ، له فراغت وروسته د علمي ورتيا، ښو اخلاقو او تدريسي استعداد له امله د امير المؤمنين حفظه الله تعالی د شفاهي حکم پر بنسټ دلورو زده کړو وزارت محترم وزير شيخ الحديث ندا محمد نديم له لوری دامتحان اخيستلو وروسته په فوق العاده توګه د خوست ولايت شيخ زايد پوهنتون د شرعياتو پوهنځي تفسير څانګې ته د استاد په توګه معرفي شو، او دا مهال د همدې پوهنځي د علمي کادرغړي په توګه د تدريس سپېڅلې دنده ترسره کوي، او في الحال د دکتورا تیزس لیکلو په درشل کې دی،.

نوموړي د ديني زده کړو ترڅنګ عصري زده کړې هم بشپړې کړې او د دولسم ټولګي د فراغت سند لري. نوموړی له ماشومتوبه د جهاد له سپېڅلې لارې سره مينه لري او د خپلو علمي زده کړو ترڅنګ يې خپله جهادي دنده هم دوامداره ساتلې ده.

استاد مفتي هادي الرحمن د خپلې مورنۍ ژبې ترڅنګ په عربي، انګليسي، اردو او فارسي ژبو د خبرو، ليکلو او لوستلو پوره ورتيا لري. همدارنګه له کمپيوټر او عصري معلوماتي ټکنالوژۍ سره ښه بلدتيا لري او د تدريس، څېړنې او اداري چارو په برخه کې يې په اغېزمن ډول کاروي.

نوموړی د علم، تحقيق، تدريس او د اسلامي ارزښتونو د خدمت په برخه کې ځانګړې لېوالتيا لري او هڅه کوي چې د اسلامي علومو په خپرولو او د هېواد د علمي کادرونو په روزنه کې خپل اغېزمن رول ولوبوي، وروستي کې ورته دمتعال ذات څخه دښه علم، عمر، صحت او دځوان نسل دسالمې عقيدې فکري روزنې توفيق غواړو او دلا نورو برياو غوښتونکي يو.

## زېربنا

د زېربينا په برخه کې ترډېره بريده د تفسيرڅانګې مشکل حل شوی خو د شرعياتو په پوهنځي کې د دريو نورو پوهنځيو د ميشت کيدو له امله استادانو ته ځانګړې اطاقونه ندي ورکړل شوي، چې د نورو پوهنځي په کډه کېدو سره به دغه ستونزه هم حل شي.

## ظرفيت لوړونه

د تفسير څانګه په پام کې لري، چې راتلونکو کالونو کې د څانګې ماسټرمحترم استاذان دوکتورا برنامې ته معرفي کړي او نوي مقرر شوي استادان لنډ مهاله کورسونو او ورکشاپونو ته معرفي شي.

په درنښت

پوهندوی نقيب الله مشفق

د تفسير څانګې آمر